# شریعت
ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۳۹۵ ګڼه / دوشنبه ۲۲ شعبان‌المعظم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۱٤ حوت ۱٤۰۲ هـ.ش/ ۰٤ مارچ ۲۰۲٤ میلادي


## ملي دفاع وزیر د لوړپوړي پلاوي په ملتیا قطر ته روان شو



ملي دفاع وزیر مولوي محمد یعقوب مجاهد او د دغه وزارت لوی درستیز قاري محمد فصیح الدین فطرت د یوه پلاوي په ملتیا پرون په یوه رسمي سفر قطر هېواد ته روان شول.
ملي دفاع وزارت لیکلي چې دفاع وزیر مولوي محمد یعقوب مجاهد او د وسله وال ځواک لوی درستیز قاري محمد فصیح الدین فطرت پرون د قطر پلازمېنې دوحې ته روان شوي دي.
د ملي دفاع وزارت ویاند عنایت الله خوارزمي د دفاع وزیر او لوی درستیز د سفر په اړه ویلي چې دوی به هلته ... ۵مخ

مولوی عبدالکبیر:
# برای حل مشکلات مردم ننگرهار توجه خاص صورت خواهد گرفت



مولوی عبدالکبیر، معاون سیاسی ریاست الوزرا در دیدار با نمایندگان مردم نازیان ننگرهار گفت: نظام اسلامی درخدمت مردم است و برای حفاظت از آرمان شهدا کار می کند.ارگ در خبرنامه یی گفته است: مولوی عبدالکبیربا شماری از بزرگان قومی و متنفذین ولسوالی نازیان ننگرهار، دیدارکرد.در این دیدار، سهیل خان شینواری به نمایندگی از بزرگان نازیان گفت: تامین نظام اسلامی و شرعی خواست هرافغان بوده و برای پاسداری آن، مردم آماده همکاری و قربانی.... ص۵

## د پنجشیر څه باندې ۴۷ زره قراطه زمرد پلورل شوي



د کانونو او پټرولیم وزارت وایي په پنجشېر ولایت کې د زمردو ۱۷۰۰ کانونه شته چې د کیندنې لپاره یې ۵۵۰ شرکتونو ته د کار جوازونه ورکړل شوي دي.د یاد وزارت شمېرې همدازار ښیي چې د یاد ولایت د زمردو په کانونو کې شاوخوا ۱۰ زره کسان په چارو بوخت دي.د کانونو او پټرولیم وزارت ویاند همایون افغان و ویل: « تر دې دمه په ۱۴ داوطلبیو کې نږدې ۴۷ زره قراطه زمرد کېندل شوي دي چې ټولیز ارزښت یې څه باندې ۳۵ لکه او ۳۳ زره امریکایي ډالره کېږي چې پر کورنیو سوداګرو پلورل شوي دي.»بلخوا، د سوداګرۍ او پانګونې خونه د کاري زمینو د برابرېدو او په بهر کې د کاني توکو د پلور په برخه کې د کانونو په ځانګړې توګه د زمردو د پروسس لپاره د کارخونو جوړېدل ګټور ګڼي. ۵مخ

## ۴۰۰ تاریخي آثار کابل موزیم ته سپارل شوي



اطلاعاتو کلتور وزارت خبر ورکوي چې د مس عینک کان له سیمې څخه یې سلګونه تاریخي آثار کابل ته رالېږلي دي.
د اطلاعاتو او کلتور وزارت د لرغون پوهنې رییس ذبیح الله سعادت ویلي چې د کوشاني دورې اړوند ۴۰۰ لرغوني تاریخي آثار چې په وروستیو کې د لوګر په مس عینک کان کې موندل شوي وو، د کابل موزیم ته استول شوي دي.
ویل کېږي چې د مس عینک کان د استخراج چارې له څو کلونو راهیسې د دغه کان په سیمه کې د بودایي دورې د یوه لرغوني ښار د اړوندو اثارو له کبله ځنډېدلې وې.

## گسترش تجارت میان افغانستان و ترکمنستان



رییس اتاق تجارت و صنعت ترکمنستان می‌گوید که از آغاز سال جدید میلادی، تجارت میان افغانستان و ترکمنستان گسترش یافته و دادوستد تجاری و همکاری‌های ترانزیتی میان دو کشور نیز در حال افزایش است.
براساس یک اعلامیه وزارت صنعت و تجارت، نورالدین عزیزی سرپرست این وزارت و هیئت همراهش، در جریان سفرشان به ترکمنستان با میرگن قردوف، رییس اتاق تجارت و صنعت آن کشور دیدار کرده است.قردوف گفته که حدود صد شرکت ترکمنستانی، به هدف ایجاد زمینه‌های سرمایه‌گذاری در افغانستان، در کنفرانس تواصل تجارتی ترکمن-افغان ص۵


## سرمقاله


# د اقتصادي او تبلیغاتي یرغل مقابله هم یوه لویه ملي فریضه ده

د سپېڅلي الهي کلام له دې وینا سره سم چې مفهوم یې دی: (هغوی یعنې دښمنان غواړي، د الهي دین رڼا د خپلو خولو په پوکیو سره مړه کړي.) اوس دا دی، وینو چې د نظامي ډګر له پرېښودو وروسته د اسلام دښمنانو په یو داسې پراخ تبلیغاتي کمپاین لاس پورې کړی، چې نه یوازې د افغانانو بلکې د ګردې نړۍ پام یې وراړولی دی. ښکاره ده چې د هغوی دا ډول شیطاني پروپاګند پرته له ځینو کره، بااحساسه او ځیرکو مؤمنانو د نن زمانې پر زیاترو سست ایمانو او ناپوهو وګړیو حتماً څه اغېزې لرلی شي. دښمن هڅه کوي د نورو تبلغیاتو تر څنګ د مسلمانانو پر خلاف د اقتصادي بندیزونو له وسلې هم کار واخلي، څو په دې توګه نړیوالو ته وښیي چې اسلام د انسان د ژوندیو چارو د تنظیم لپاره هیڅ کوم پروګرام نه لري. په دې مانا، چې نه د نن زمانې سیاست پر مخ بیولی او نه د اقتصادي ننګونو ځواب ویلی شي. مطلب اوسمهال هغوی په یو داسې حیثیت کې دي، چې د ځمکې پر مخ د اسلامي نظام د کوم سمپل د وړاندې کېدو هیڅ زغم نه لري. بلکې یوازې هماغه طاغوتي مذهب (لیبرالیزم) پر ګردو نړیوالو جبراً او قهراً تپل غواړي. د همدې مقصد لپاره هغوی بشري... ۵مخ

## بازگشایی شاهراه سالنگ به روی ترافیک




شاهراه سالنگ به روی ترافیک بازگشایی شد.این شاهراه، روزهای گذشته، درپی برف باری های سنگین و توفان، به روی ترافیک بسته شده بود.مولوی عزت الله عارف رییس فواید عامه پروان به آژانس باخترگفت: کارکنان خدماتی، توانستند با برداشتن برف از روی جاده عمومی، شاهراه سالنگ را بازگشایی کنند. ص۵

## کاپیسا، لغمان او پنجشیر کې لسګونه کورونه نړېدلي



د لغمان، پنجشیر او کاپیسا سیمه ییز مسئولین وایي، چې په دغو ولایتونو کې د وروستیو اورښتونو له امله ۷۷ کورونه ویجاړ شوي دي. د پنجشېر سیمه ییزو مسوولینو ویلي چې د یاد ولایت په شتل، رخې، لومړۍ برخې ولسوالیو کې د سختو ورښتونو له امله ۱۰ کورونه ویجاړشوي او ۱۰۰ څاروي مړه شوي دي. د یوبل خبرله مخې؛ په لغمان کې هم د سختو اورښتونو له امله ۲۵ کورونه ویجاړ او ۱۲ څاروي مړه شوي دي. دغه راز په کاپیسا ولایت کې هم ۴۲ کورونه ویجاړ شوي دي.
د لغمان د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې او چمتووالي رییس خیر محمد غازي ویلي چې د وروستیو ورښتونو له امله د بادپښ ولسوالۍ په بېلا بېلو سیمو کې ۲۵ کورونه ویجاړ او ۱۲ څاروي مړه شوي دي.

## کرنې وزارت د کبانو پالنې فارمونه زیاتوي



د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت وایي، هڅه کوي، چې د هېواد په بېلابېلو بندونو او سیندونو کې د کبانو د پالنې فارمونه زیات کړي او دغه بهیر اوس هم دوام لري. په داسې حال کې چې افغانستان د اړتیا وړ د کبانو غوښه له پاکستانه راواردوي، خو د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ... ۵مخ


د آمو سیند حوزې مدیریت او هېواد ته یې ګټې
صفحه ۲

تجارت از دیدگاه اسلام
صفحه ۲

د فکري جګړې سنګرونه تش دي
۳ مخ

# جهادي خاطرې

## فراه رود هم بالآخره فتحه شو!

### ۱۴۰۰/۴/۱۳ هـ لمریز کال

**مولوي حیات الله مهاجر فراهي**

انسان له آره داسې زیږېدلی چې له خپل کلي، خلکو او هېواد سره یې په خټه کې مینه اغښل شوې وي خپل د ځاپوړو له ځای سره بې انتها، طبعي او غیر اختیاري محبت یې په زړه کې ځای نیولی وي، که څه هم هغه سیمه وروسته پاتې، د پرمخ تللې ژوند له اسانتیاوو بې برخې او ژوند پکې له ډېرو ستونزو سره مل وي...

د فراه رود ولسوالۍ مرکز چې د هرات کندهار پر لویې لارې او د فراه رود، سیند پر غاړه موقعیت لري، د دښمن لپاره یوه مهمه سیمه وه دا ځکه چې د دښمن ډېر اکمالاتي کتارونه، لوجستیکي مواد، دولتي پرسونل او منسوبین له همدې لارې تیرېدل نو همدا لامل و چې د امریکایي او ایټالوي ځواکونو په شمول سلګونه داخلي عسکر همدلته مېشت و.

زموږ د سیمې فراه رود ولسوالۍ وګړو هم د نور هېواد د خلکو په شان د تېر شل کلن اشغال په دوران کې ډېرې سړې او تودې ولیدلې، د چاپو او بمبارونو بې شمېره پېښې یې د سر په سترګو وکتلې او د خپلو مجاهدینو ورونو حمایت، تمویل او ملاتړیې په ډېري ایمانداري او ایثار وکړ.

نو له همدې امله د فراه رود مجاهدینو هم په ډېرې مېړانې او قوي عزم د دښمن سره تر پایه جهادي مبارزه روانه وساتله. د فراه رود ښارګوټي کې چې د ولسوالۍ مرکز ته څېرمه پروت دی د ډېرو سړو او تودو پېښو شاهد پاتې شوی، مجاهدینو په دې بازار کې د غلیم سلګونه عسکر په غلچکي بریدونو او تهاجمي عملیاتو کې له پښو غورځولي.

دلته د «خدایداد قومندان» په نوم د بالابلوک د کنسک د سیمې استوګن د کلونو لپاره واکمن و چې د دې ځای هټۍ وال او ولسونه یې له لاسه زیات په تکلیف و، نوموړي امریکایي او ایټالوي اشغالګرو ته یو له خورا باوري او نږدې کسانو نه شمېرل کېده. دې قومندان د خپل کلي لسګونه ځوانان د اشغال د دوام او خپل شخصي ګټو د ساتلو لپاره د مرګ کومې ته ور ټېل وهل.

د دې قومندان دا عادت و چې کله به یې کوم عسکر د مجاهدینو لخوا په بازار کې په چریکي برید کې ووژل شو نو ده به غچ له ملکي وګړو نه اخیست؛ دوکانداران به یې وهل ټکول، بد رد او ښکنځاوې یې ورته کولې او تر ټولو لا بده دا چې د قومیت په نوم یې ولسي وګړو ته ازار او اذیت ورکاوه.

کله چې به د دوی کوم عسکر ووژل شو یا به یې پر مرکز کوم ډز وشو نو په ځواب کې یې دوی پر ولسي کورونو هاوان او ډېسي توپونو مرمۍ ویشتلې. ما ته ښه یاد دي یوه ورځ یې د یوه تګ په ځواب کې ۱۸ د هاوان مرمۍ د تودنک پر کلي وویشتلې. د دې قومندان عسکرو یو وخت زموږ یو ملګری او قریب «شهید ولي جان توپان» چې د فراه دوه لارۍ سره په جګړه کې شهید شوی و د فراه رود بازار کې په کرینک باندې ځړولی و.

د خدایداد قومندان پولیسو د لویې لارې د چلوونکو نه هره ورځ په زیاته اندازه روپۍ د ټوپک په زور اخیستلې حتا د یوه شلګون پرسر یې موټروانان شهیدان او ژوبل کړي. تر دې چې یو وخت هرات کې موټروانانو د دوی له لاسه شکایت او اعتصاب وکړ چې لامله یې کوماندو ځواکونو دی او د ده پولیس چې د فراه دوراهۍ ته څېرمه د انتن په پوسته کې مستقر وه، د څورلکو په مټ لاس تړلي پورته کړه، خو څه موده وروسته د روپو او رشوت په بدل کې را خوشې کړل شو او بیا د قومندان په توګه فراه رود ته راغلی.

فراه رود بازار ته نږدې کلي د چاړواکو د لویو مرمیو لامله چې پر کورونو یې ویشتلي د خپل مېنو پرېښودلو ته اړ شول همدا شان د فراه رود هټۍ وال د جګړو او د دوی د وهلو ترټلو له وجهې اړ شول چې خپل دوکانونه وتړي.

یو ځل ۱۳۸۷ لمریز کال کې زه د کمېسیون مسول وم، د بالابلوک د «خواجه خضر» او شیوان سیمه کې د سکورټیانو (انکار) سره سخته جګړه وشوه چې پکې یې د قومندان په شمول شاوخوا ۱۷ تنه ووژل شوه او پنځه تنه یې ژوندي ونیول شو، همدې خدایداد قومندان تیلفون را وکړ چې مولوي صاحبه! دا کسان را ایله کړه عجیبه ده قومندان او دولت زه یم خلک تاسو بندیان کوئ.

یادونه: هغه پنځه تنه بندیان چې اصلاً د شینډنډ اوسېدونکي وه، د څو ورځو بند وروسته د سپین ږیرو د قوي ضمانت په بدل کې ما خوشې کړل(دا نو هغه زمانه وه، چې مجاهدین په داسې موضوعاتو کې ډېر حساس وه او دا موضوع د ډېرو ملګرو د خپګان سبب هم شوه.)

زما د معلوماتو په اساس دا خلکو بیا د حکومت نه توبه وایسته او بیا یې برخه پکې وانه خیسته. وړاندې به مجاهدینو په کلیو، او درو کې ګرځنده ګوزاره کوله، خپل معلوم مراکز یې نه لرل، په لومړي ځل موږ د فراه رود د تودنک سیمه کې مرکز (قرارګاه) په ۱۳۹۴ لمریز کې فعال کړه.

دا نو هغه وخت و چې دښمن خورا په زور کې و او د اسلامي امارت رپاند سپین توغ ورته په هېڅ حالت کې د منلو نه و هغه هم د دوی د پوستو او تاسیساتو په دوه کیلو مترۍ کې. موږ ته یې څو ځله ګواښونه وکړل آن یو وخت خو یې د دوو ورځو ضرب الاجل راته وټاکه، چې د بسترو سره به مو لاسترلې ولسوالۍ ته انتقال کړي.

# د آمو سیند حوزې مدیریت او هېواد ته یې ګټې

**احمد شاه**



افغانستان د هغو هېوادونو په کتار کې راځي، چې له نورو هېوادونو سره ګډې اوبه لري او د نړۍ له ۲٦۳ فرامرزي یا له نورو هېوادونو سره د ګډو سیندونو څلور هغه یې په افغانستان کې دي او افغانستان له ۵ ګاونډیو له جملې له څلورو سره یې د اوبو له پلوه اشتراکات سره لري له تاجکستان سره د آمو دریا حوزې پر مټ، چې بیا وروسته دغه اوبه ازبکستان او ترکمنستان ته هم ځي. له ترکمنستان او ایران سره هریرود-مرغاب حوزې پر مټ، له ایران سره د هلمند سیند حوزې او له پاکستان سره د کابل سیند د حوزې پر مټ نښتی دی. افغانستان د سیمې په داسې نقطه کې پروت دی، چې د ګډو اوبو د حوزو کابو ټولې سرچینې هم په هېواد کې دننه دي او وروسته ګاونډیو هېوادونو ته بهېږي.

**د افغانستان د اوبو مدیریت**

اوبه د هېواد په پرمختګ او په انساني ژوند کې خورا مهم رول لوبوي او افغانستان د نړۍ د هغه هېوادونو له جملې څخه دی چې په پرېمانه اندازه اوبه لري. د اسلامي امارت په راتګ سره د هېوادوالو هیلې را پیدا شوې، چې نوی حکومت به د اوبو د ښه مدیریت او دوامداره پرمختګ لپاره ګامونه اوچت کړي او په دې برخه کې حکومت هم داډ ځرګند کړی چې د اوبو مدیریت په برخه کې به هڅه کوو.که څه هم په افغانستان کې له اوبو څخه د برېښنا د ورتیاوو په اړه کومه دقیقه څېړنه نشته، خو بیا هم په مجموعي ډول د انرژۍ کارپوهان پر دې موافق دي، چې په افغانستان کې له اوبو څخه تقریباً ۲۳ زره مېګاواټو د برېښنا تولیدولو وړتیاوې شته او د دې ترڅنګ د اوبو مدیریت سره به وکولای شو، چې له ۱۵مېلیون جریبه زیاتې شاړې ځمکې خړوبې کړو، چې له دې سره به له یوې خوا هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شي او له بلې خوا به د کرنیزو توکو له اړخه خودکفاء کېدو ته یو څو قدمه ورنېږدې شو.

**د آمو سیند حوزه:**

آمو سیند د پامیر له غرونو سرچینه اخلي او شاوخوا ۲۲۷۸۰۰ کیلومتره مربع سیمه تر پوښښ لاندې لري. دا سیند دوې مهمې شاخې لري، شمالي هغه یې د پامیر سیند دی او سوېلي شاخه یې واخان سیند دی، چې له چقمقتین جهیل څخه سرچینه اخلي. دا دواړه سیندونه له یو ځای کېدو وروسته د پنج په نوم سیند جوړوي او تر علي خانوم پورې غځېږي. له کوکچې سیند سره له یو ځای کېدو وروسته آمو سیند جوړوي، آمو حوزه د مساحت، کلنیو اوبو اوسط اندازه، په دې حوزه کې مېشت نفوس او په کرنیز سکتور کې یې د ونډې له پلوه د افغانستان له پنځو سترو اوبیزو حوزو شمېرل کېږي. دغې حوزې په افغانستان کې د اوبو د ټولو حوزو ۱٤ سلنه سیمه نیولې ده. همدا راز د افغانستان ۱٤ سلنه نفوس تر دې حوزې لاندې راځي او په هېواد کې د ټولې کرنیزې ځمکې ۲۳ سلنه یې له دې حوزې خړوبېږي. د دغې حوزې د اوبو کلنۍ کچه ۲۲ ملیارد متر مکعب تخمین شوې ده.

د تخمینونو له مخې، د پنج-آمو سیند حوزې په دښتو کې د ورښتونو کلنۍ کچه ۳۳٦ ملي متره ده، په افغانستان کې د آمو حوزې د اوبو اخیستلو سیمه ۹۰٦۹۳ کیلومتره مربع ده، چې د ټولو حوزو ۲۷ سلنه اوبه ترې ترلاسه کېږي او له تاجکستان وروسته دوم هېواد دی چې دغې حوزې ته ډېرې اوبه ورکوي.

د دې سیند ټول اوږدوالی ۲٥٤۰ کیلومترو ته رسېږي. ۱۲٥۰ کیلومتره یې له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره د افغانستان په پوله کې بهېږي او په ارال بحیره کې پای ته رسېږي. په اوسط ډول یې هر کال ٥/۱ ملیارد متر مکعب اوبه ازبکستان ته بهېږي، ٤۹/٦ ملیارد متر مکعب اوبه یې تاجکستان ته او ۱/٥ ملیارد متر مکعب اوبه یې هم ترکمنستان ته بهېږي. کافرنهان، وخش او نور سیندونه یې مهم مرستیالان بلل کېږي؛ خو د افغانستان په خاوره کې دننه یې پنج، کندز او کوکچه مهم مرستیالان سیندونه دي.

# تجارت از دیدگاه اسلام

**همایون**

تجارت یکی از راه‌های کسب درآمد است؛ اما مشروط بر این‌که فعالیت‌های اقتصادی باید توأم با اخلاق، و معنویت باشد تا راه حاصله مشروع باشد.

مثلاً صداقت و راستی، یادگیری از احکام شرعی اقتصادی، انصاف در معامله و اجتناب از ظلم و پرهیز از سوگند خوردن در معاملات در نظر گرفته شود مورد تأکید است.

پیامبر گرامی (ص) فرموده است: ای گروه تجار همه شما به دلیل رعایت نکردن مسایل اخلاقی فاجر هستید، مگر کسانی‌که در معاملات از خدا بترسید و نیکی کنند و صداقت راستی در معاملات داشته باشند.

در روایت دیگر یکی از صحابی کرام به نام عبدالرحمن انصاری از پیامبر اسلام(ص) سوال کرد چرا تاجران فاجر اند؟ حضرت(ص) فرمودند: برای این‌که در معامله دروغ می‌گویند قسم می‌خورند و تقلب و نیرنگ به کار می‌برند.

صداقت و راستی در معامله اثرات مثبت فراوان دارد که از جمله آن‌ها می‌توان به موارد هم‌چون صداقت و راستی جلب اعتماد عمومی، برکت معامله و سود بیشتر خواهد شد.

پایه و اساس هر گونه پیشرفت، رشد اقتصادی در جامعه در صداقت و راستی است، صداقت و راستی به انسان آبرو و شخصیت می‌دهد، در مقابل دروغ و تقلب مایه شرم‌ساری، رسوایی و بی‌آبرویی است، صداقت و راستی موجب نجات و رستگاری، صفا و صمیمت است.

امروزه متأسفانه دروغ، سوگند، تقلب در عرصه اقتصاد رواج پیدا کرده است که نتیجه آن شیوع معضلاتی چون بی‌برکتی، کم‌فروشی و عدم ثبات نرخ‌ها و... است که همه این‌ها از دیدگاه اسلام گناه کبیره محسوب می‌شود.

فقه‌ها می‌گویند وقتی کسی احکام تجارت را یاد نگیرد و معامله کند در آن مال نمی‌تواند تصرف کند، چون در حقیقت معامله به صورت باطل انجام شده است و اموال به دست آمده نیز حرام خواهد بود.

در جای دیگر پیامبر(ص) فرموده: وای بر تاجران که به خاطر مال و معامله‌شان سوگند بخورند. سوگند خوردن در معامله آثار و پیامدهای زیان‌بار دنیوی و اخروی فراوان به دنبال دارد، خدای متعال بنده‌ای را که در معامله با مردم دغل‌بازی می‌کند و قسم و دروغ بخورد علاوه بر این‌که او را از رحمت و برکت خویش محروم می‌سازد حتا سود مادی اورا تباه می‌کند.

شاید انسان با سوگند، دروغ و فریب‌کاری به سود بیشتر در کسب تجارت دست یابد، اما این رزق و سود به سبب شکستن حرمت خداوند متعال، مورد غضب حق تعال واجب می‌شود و نمی‌تواند برای صاحب آن برکتی داشته باشد و خوشی به همراه بیاورد، بلکه ضرر و زیان مالی به دنبال دارد.

از حضرت محمدمصطفی(ص) نقل شده است که فرمود: هر انسانی‌که با سوگند به خدا مال مسلمانی را صاحب شود، خداوند(ج) بهشت را بر او حرام و جهنم را بر او واجب می‌گرداند.

پرسیدن ای رسول خدا(ص) حتا اگر آن مال کم باشد؟ فرمود: اگر چه فقط یک چوب مسواک باشد. پس انسان باید از سوگند، تقلب، فریب و نیرنگ در معامله شدیداً بپرهیزد، چرا که به راستی قسم بخورد خودرا وسیله کاسبی خود قرار دهد و عظمت و ارزش الله تبارک و تعالی را پایین آورده و این عمل زشت و نارواست اگر به دروغ قسم بخورد مرتکب گناه کبیره شده و عواقب گناه کبیره دامن‌گیر او است.

# د فکري جګړې سنګرونه تش دي

**د شریعت آرشیف څخه**

د حضرت آدم علیه السلام له پیدایښته آن تر ننه پورې د انساني فکرونو ترمنځ کش و ګیر روان دي. پر کومو انسانانو چې د قابیل فکر غلبه کړې ده، د هماغه لپاره کار کوي او په یو شمیر انسانانو د هابیل مفکوره زوروره شوې ده، نو د هغې له پاره هڅه او هاند کوي. هغه فکر چې انسان د آخرت او دنیا د بریالیتوب لوري ته راکاږي په دایمي توګه د هغو انسانانو د فکر تر برید لاندې راځی چې یوازې د دنیا خوندونو لاره یې غوره کړې ده او د آخرت یې هېر کړي دي، زمونږ په اوسني نړۍ کې همدا اوس د ښه او بد تور او سپین فکر کش مکش روان دي، کله د یوه فکر لارویان پر بل غلبه کوي او کله بیا د بل فکر لارویان د فکرونو د اختلاف له کبله د وژلو او ورانولو جګړه هم کله توده او کله سړه شي، زمونږ هېواد افغانستان په دې جګړه کې یو مرکزي حیثیت غوره کړي دي، دما دي فکر لارویان د دنیا له هر ګوټ څخه راټول شوي وو زمونږ دولس د هغه فکر د بدلون هڅه یې کوله چې د آخرت او دنیا ښېګڼو پر اساس جوړ شوي دي، په هغه جګړه کې د دنیا هغه پرمختللې مادي او معنوي وسلې وکارول شوې او لاکارېږي، چې انسان حیرانوي.

زمونږ د ولس پر فکر د کمونیستي مفکورې حمله د دې لامل شوه، چې مونږ د الهي احکامو پر اصولو باندې سم له خپل فکر څخه دفاع وکړ و او په دغه کار کې د مادي فکر یو بل اړخ له مونږ سره مرسته پیل کړه، هیڅلکه یې هدف دا نه وچې اسلامي فکر د کمونیستي فکر په وړاندې بریالي شي موخه یې داوه چې د اجتماعي دنیوي مفکورې لارویان د الهي مفکورې د لارویانو په واسطه وټکول شي، نتیجه کې ثمره د غربي فردي دنیوي اصولو باندې ولاړه مفکوره کامیابه کړي.

همدې نتیجې ته تر یوه حده غربي مفکوره برلاسې شوه، د ولس د مفکورې اصلي مدافعین په زیاته پیمانه شهیدان شول کومه برخه چې ژوندي پاتې شو د یو بل ډول مفکوروي جګړې سره مخ شول، چې د دنیوي فکر غریزه پر هغو باندې دومره غالبه شوه، چې د الهي مفکوري لارویان یې هم له پښولاندې کړل، د ولس د جهاد مشران په دې جګړه کې دومره ککړ شول چې د الهي مفکوري اخروي اړخ ورڅخه هیرشو. د غربي مفکوري ځواکمنو هېوادونو د باطل په دغه جګړه باندې چې د مقدس جهاد لارویانو پیل کړې وه نور د سون توکي هم ورزیات کړل.

د جهاد په دوره کې هم د پردې ترشا داسې هڅې رواني وې چې لارویان یې په آخر کې په داسې توګه وشرمول چې په راتلونکي کې خلک د مقدس جهاد له پاره مایوسه کړي او د بل ځل له پاره په دیني شعارونو باندې باورکول هم د سوال مسئله ورته جوړه شي، کټ مټ همداسې وشول، د سپیڅلي جهاد مشرتابه د شهیدانو مفکوره هېره کړه، د دنیا د څو ورځو د مفکورې په لومو کې ښکیل شول، په دې کار جهادي فکر او د خپلواکۍ مبارزې داسې رنګ ترلاسه کړ، چې یو شمیر مسلمانان یې په خپل کار پښېمانه کړل او څه نورېې د راتلونکي له پاره متوجه کړل چې فکري جنګ تر وسله وال جنګ نه سخت دي او پر خپل ځاي یې له وسله وال جنګ څخه نتایج هم د پام وړدي.

زما په نظر زمونږ د ولس په فکر جوړولو باندې پانګونه کول ترهغې پانګونې څخه څو چنده ګټوره تمامېږي چې هغوي په ډول ډول وژونکو توکو باندې سمبال شي، د فکري جګړې په ډګر کې که مسلمان ولس ته داسي روزنه ورنکړل شي چې د عقل په مټو د خپلو وینو ثمرې وساتلي شي او د وسلې د استعمال ځاي او زمان په کیفیت او کارونه باندې پوه شي دا به ډېره غوره وي.

زمونږ مسلمان ولس اوس د یو ستر فکري جنګ په لومو کې محاصره دي، خو متأسفانه ډېر لږ شمېر مسلمانان ورته متوجه دي، د وسله وال جنګ تېپیان او قربانیان شمېرل کېږي، خو د فکري جنګ هغه قربانیان چې د هېواد په هر کور کې هره ورځ د ایمان ډیوه مړه کوي له شمارلو څخه یې انسان عاجز دي.

د ډله ایزو غږېزو او انځوریزو خپرونو هغه جګړه چې د دغه مظلوم ولس پر مغزو او مفکورو حملې کوي له پامه غورځول شوی جنګ دي دغه سنګر زمونږ ډېرو مؤمنو هېوادوالو هېر کړي.

د باروتو د درځ او دوړو په منځ کې د ګوتو په شمېر روح له لاسه ورکوي، اما له همدغه غږ او دوړو سره یو ځاي په سلګونو خپله مفکوره له لاسه ورکوي، زمونږ دګران ولس ستونزه همدا ده چې د فکري جګړې سنګرونه خالي پرېږدو، نتیجه بیا هغه څوک را څخه وړي چې د وسله وال جنګ تر څنګ څو چنده پر فکري جنګ باندې پانګونه کوي.

هغه افغانان چې د فکري توغندیو په واسطه خپله مفکوره له لاسه ورکوي، هیڅوک نه شماري، د دغې مرموزې جګړې قربانیان، نارینه، ښځینه، واړه، زاړه او ځوانان دي. د تأسف خبره لا دا ده چې د دې جنګ قربانیان شهیدان هم نه دي، ځکه هغوي چې اسلامي فکر له لاسه ورکړی او بل فکریې د ځان له پاره غوره کړ یا بې دینه شول، هغه ته بیا د شهید پر ځاي د مرتد کلمه کارول په کار ده. مسلمان واکمنان تل په وسله وال جهاد باندې ټینګارکوي، اما فکري جهاد ورڅخه هېر شوي وي، د فکري جګړې سنګر که خالي شي خپله مجاهدین هم کله د ځینو عواملو له کبله خپله عقیده له لاسه ورکوي، دغه دواړه سنګرونه خالي کول د دې لامل کېږي چې دښمن کامیاب کړي او زمونږ د عقیدې او خاورې ساحه په خپل واک کې واخلي.

وسله وال جنګ باید په داسې ډول وشي، چې د فکري سنګر لارویانو ته ضررونه رسیږي او د فکري جنګ لارویان باید مجاهدینو ته ضررونه رسوي.

ښه کار هغه څوک کوي چې د خاورې او فکر دواړو له حریم څخه دفاع کوي، که هېواد مو آزاد وي خو فکرمو اشغال وي ناکام بلل کېږو. د خپلې خاورې او فکر ساتنه د مسلمان مسئولیت دی، له هر سنګر څخه غفلت د دې معنې ورکوي چې د اسلامي پوهې په ډګر کې ستونزې لرو او د اسلام زده کړه د فکري سنګر یوه مهمه برخه ده.

# اشغالگران چرا جهان اسلام را شرق میانه، نامیدند !؟

**عبدالخالق**

مقارن با جنگ جهانی (جنگ اروپایی دوم) اشغالگران برای کشورهای عربی اسلامی ، اصطلاح شرق میانه (خاورمیانه) را نظر به انگیزه های ذیل، انتخاب نمودند :

۱- اشغالگران خواستند که با اصطلاح شرق میانه ، هویت سیاسی اسلامی این سرزمین را یا مسخ نمایند و یا بیرون بریزند و فرهنگ اسلامی این سرزمین را مطابق خواست خود بارنگ فرهنگ غربی، رنگ آمیزی نمایند که در نتیجه روحیه دنباله روی غرب، در نهاد ما تثبیت گردد و این منطقه به یک محدوده جغرافیایی محض تبدیل گردد که قابلیت مدغم شدن به غرب را داشته باشد!

۲- بعد از فاجعه اشغال فلسطین و بعد ازینکه صلیبیزم و صهیونیزم ، فلسطین را غصب نمودند، این فاجعه که قضیه مربوط به همه مسلمانان بود و هویت متمایز آن جهاد اسلامی است، اشغالگران به جای اینکه آن را قضیه مسلمانان بنامند ، نامش را قضیه شرق میانه، گذاشتند .

تا چنین وا نمود کنند که موضوع اشغال فلسطین یک قضیه کوچک و مربوط به یک منطقه جغرافیایی خاص به نام شرق میانه است نه قضیه مربوط به همه مسلمانان !

۳- در این چند سال اخیر و بعد ازینکه سخن از عادی سازی روابط با اشغالگران یهودی به میان آمده است، لانه های تروریستی صلیبیزم و صهیونیزم به این نتیجه رسیدند که با این عادی سازی روابط با مزدورانش ، دیگر آن روحیه ، باور و اراده مسلمانان را در جهاد با اشغالگران یهودی




صهیونیستی ، شکسته و این فاجعه و اشغال را بالای ما قبولانده اند و همچنین این سرزمین که نامش را شرق میانه گذاشتند، موجودیت و تسلط صهیونیزم را بر خود پذیرفته است .

این جا بود که از شرق میانه جدید و در پی آن از شرق میانه بزرگ ، نیز نام بردند .

در حالیکه کور خواندند و درک نکردند که این حکومت های عربی مزدور که در پی عادی سازی روابط با اسرائیل هستند هرگز از مسلمانان و حتی از باشندگان کشورهای خود هم نمایندگی کرده نمی توانند .

٤- در این سرزمین که نامش را شرق میانه گذاشتند ، جهان اسلام را می بینیم که با یک وحدت زبانی ، تاریخی ، فرهنگی و پیروی از یک قرآن و یک پیامبر و توجه به طرف یک قبله در بیشتر کره زمین ، گسترده است .

و چون حکومت نام نهاد اسرائیل یک کشور و جامعه تحمیل شده بر مسلمانان می باشد که از ناحیه دین، زبان ، فرهنگ، أهداف، اختلافات منطقه وی شهروندانش، وابستگی به غرب و .... با مسلمانان کاملا متفاوت بوده و مورد نفرت امت اسلامی قرار دارند که به عنوان یک آواز دلخراش و یک عضو اضافه و نا آشنا و یک زخم ناسور و متعفن و یک عنصر اشغالگر و ستیزه جو ، عرض وجود نموده اند.

نظر به دلائل فوق اشغالگران، جهان اسلام را با در نظر داشت موقعیت و فاصله جغرافیایی شان نسبت به مرکز غرب ، نام گذاری نمودند مانند، شرق دور، شرق نزدیک، شرق میانه .

گویا مسلمانان بردگان هستند که بادر نظر داشت موقعیت شان نسبت به برده فروشان ، نام گذاری می شوند .

و این منطقه که در اطراف رژیم اشغالگر صهیونیستی قرار دارد ، نامش را، شرق میانه گذاشتند و در پی آن از همه کتاب های درسی ، تحقیقات علمی و گزارش های سیاسی ، جغرافیایی ، اقتصادی ، امنیتی ، نظامی و .... نام اسلام و مسلمانان را حذف نموده و به جایش شرق میانه نوشتند و چند کشور غیر عربی، مانند افغانستان، ایران، ترکیه و دیگران را نیز، شامل شرق میانه نمودند تا اسرائیل نیز یکی از کشور های شرق میانه شمرده شده و موجودیت وی در میان مسلمانان تثبیت گردد .

متأسفانه تمام ادارات و مراکز سیاسی ، نظامی ، فرهنگی ، رسانه یی و .... مزدور، در جهان اسلام ، نیز آگاهانه این اصطلاح استعماری را پذیرفته و با آن تعامل نمودند.

جالب اینست که هنگامیکه از تروریزم و افراط گرایی حرف می زنند ، دیگر شرق میانه را فراموش نموده و تروریزم اسلامی و افراط گرایان مسلمان، می گویند !!!

# دنیا

**رحمان بابا**

هوښيار مه ګڼه هوښيار د دې دنيا
بې وقوف دي وقوف دار د دې دنيا
روښنايي په هغو زړونو ده حرامه
چې پرې کيني ګرد غبار د دې دنيا
پوچ ګويي ده چې يې اهل د دې دنيا که
هر کلام او هر ګفتار د دې دنيا
د طفلانو په څير واړه خاک بازي کړي
هر چې کاندي کاروبار د دې دنيا
هميشه به بې وقوف او بې شعور وي
چې مخمور وي په خمار د دې دنيا
هر بيمار لره دارو به جهان شته دی
دارو نه لري بيمار د دې دنيا
ګرفتار يې همېشه په غم کې ډوب وي
هيڅوک مه شه ګرفتار د دې دنيا
همېشه به يې يو پنډ د غم په سر وي
چې په سر يې وي دستار د دې دنيا
واړه غم دي که يې پيري که يې پلوري
نور څه نه شته په بازار د دې دنيا
همه ګی واړه ټکان دي ټکي کاندي
فروشنده او خريدار د دې دنيا
چې نظر د چا په دين او په ايمان وي
هغه نه کا انتظار د دې دنيا
چې پيدا شي همه ګی واړه پناه شي
راشه وګوره ناتار د دې دنيا

# سرنوشت

**محمدصادق طارق**

دل، امید رحمت دیگر نمود
شعله‌ی خاموش خود، اخگر نمود

وسعت ادراکِ ذهن محدود شد
فطرت رزمنده‌ام محشر نمود

در دل پر درد یاس اندوه چرا؟
لاله چرا مژگان خود را تر نمود؟

داغ بنه بر قلب مجروح زمان
از رقیب چون بشنوید باور نمود

یک قدم تا منزل مقصود بزن
خیر طلب گر صد دغل داور نمود


سرنوشت را با امید از سر نوشت
«بِه شود» را مشق هر دفتر نمود

عُسر و یُسر لازم بود با زندگی
هر آن کس نشرح را از بر نمود

اندکی با «طارق» از فردا بگو
از درون حال امروز پر نمود

# ترویج کتابخوانی، گریز از تاریکی به سمت افق روشنایی

**سجادی**



کتاب و متون آن به مثابه غذای روح است، همانطوری که جسم فیزیکی بدون صرف غذا نمی‌تواند به حیات خود ادامه دهد، وضعیت روحانی انسان نیز در عدم مطالعه، فرتوت و کسل می‌گردد. برای هر انسان ضرورت است تا در هر ۲٤ ساعت متناسب با وضعیت کاری اش حد اقل دو الی سه ساعت را صرف مطالعه کتب پر محتوی نماید، تا از بیماری یأس و سرخوردگی رهایی یابد. در فقدان مطالعه، انسان در تاریکی قرار دارد که هیچ عاملی نمیتواند او را به سوی نور و روشنایی باطنی رهنمون سازد، گذر از تاریکی به سمت روشنایی تنها با مطالعات هر روزه ممکن است، باید تلاش نمود تا کتاب های خوب مطالعه نمود، کتابهایی که برگرفته از آثار اندیشمندان مشهور جهان است و گذر زمان، آنان را از عرصه‌ی فرهنگ جهانی حذف نتوانسته است.

با تأسف باید یاد کرد در افغانستان همانند بسیاری از عرصه ها، کتاب و کتاب خوانی نه تنها با چالش های ناگواری مواجه است بلکه اساساً جایگاه حایز اهمیت و لازم را دارا نیست. هر چند گفته می شود که وجود چالش هایی از قبیل عدم رشد فرهنگ کتاب‌خوانی در میان اقشار گوناگون، ضعف اقتصادی، گران تمام شدن قیمت چاپ کتاب در داخل کشور، گران بودن قیمت کتاب، از آشکارترین چالش های کتابخوانی در کشور خوانده می شود، اما متاسفانه ضعف فرهنگی و بی توجهی به فرهنگ و به ویژه به فرهنگ کتابخوانی ریشه های بنیادی در جامعه دارد. اما خوش بختانه با وجود چنین مشکلات و چالش هایی و وضعیت ناگواری که کتاب و فرهنگ کتاب خوانی در کشور دارد، افرادی پیدا می شوند و گروه های وجود دارند که سعی دارند به هر طریق ممکن به اعتلای این فرهنگ در میان اقشار مختلف جامعه کمک کنند و راه هایی را برای افزایش میل و علاقه مردم به کتاب و کتاب خوانی دریافته و ارائه میدهند که چنین آدرس هایی کماکان برای اهل مطالعه در وضعیت کنونی نیز قابل دسترسی است.

واقعیت امر این است که حال مردم ما در پی آن هستند تا یک زندگی خوب و انسانی داشته باشند، از مصیبت های جنگ و ناامنی در امان بوده و آینده صلح آمیز و مترقی را برای خود رقم زنند این هدف والا تحقق نخواهد یافت مگر این که درجه فرهنگ و درک خود را ارتقاء بخشند. درجه فرهنگ و درک نیز افزایش نخواهد یافت مگر این که عزم آموختن و مطالعه و کتابخوانی و فکر کردن را در وجود خود زنده سازند و در زندگی فردی و خانوادگی و جمعی برای آن جای و موقعیتی و اهمیتی بسزا قایل گردند. امروز اگر اروپا به درجه از پیشرفت و ترقی دست یافته و مرزهای دانش را پی درپی در می نوردد به اذعان همه مورخان و اهل خبره این وضعیت از هنگامی رخ نمود که آنان به فرهنگ و دانش روی آوردند . بنابراین راه خوش بختی ملت ها و نیز نجات ما از این زندگی روزمرگی و تیره آنست که درخت دانش و فرهنگ را در وجود فردی و اجتماعی خود بارورسازیم.

ما صلح و امنیت و ترقی را همیشه از آدرس جنگ و سیاست نباید سراغ بگیریم. بلکه راه های دیگری نیز وجود دارند که چه بسا اساسی تر و بنیادی تر باشند. یکی از آن راه های عمده رسیدن به صلح و امنیت و پیشرفت و داشتن کشور آباد این است که فرهنگ مطالعه و کتابخوانی را ترویج دهیم. با چالش ها و موانع آن مقابله نموده و زمینه آن را فراهم سازیم.

برای ترویج فرهنگ کتابخوانی و مقابله با موانع یا رفع چالش ها می توان راهبرد های مختلفی را ارایه داشت. انتظار برده می شود که هر شهروند و نهاد فرهنگی و علمی و سیاسی و اجتماعی برای ارتقاء فهم و درک جامعه در این راستا تلاش ورزد. اما اینک به صورت مشخص برای رفع موانع و ایجاد زمینه و بستر لازم جهت ترویج و توسعه فرهنگ کتابخوانی می توان به موارد زیر اشاره داشت: خانواده، نظام آموزشی (حکومت)، کتابخانه‌ها و کتابداران.

در مورد خانواده باید اذعان کرد که خانواده عامل بسیار موثری در ایجاد ترویج فرهنگ مطالعه و کتابخوانی است. محیط و شرایط خانواده، روش تربیتی و آموزشی والدین ، طرز تفکر و نگرش والدین در رابطه با مطالعه و کتابخوانی، وجود کتب و نشریات قابل دسترس و هم چنین سطح اقتصادی و پایگاه اجتماعی خانواده، نقش به سزایی در تقویت و ترویج فرهنگ مطالعه و کتابخوانی و نهادینه شدن آن دارد.

در ترویج فرهنگ مطالعه و کتابخوانی پس از خانواده، نظام آموزشی یا مکاتب دشوارترین وظیفه و مسئولیت را در این راستا بر عهده دارند. اگر شاگردان مکاتب در مکاتب با کتاب آشنا شده و لذت مطالعه، خودآموزی و افزایش معلومات عمومی را درک کنند و فرهنگ و روحیه مطالعه در آنها ریشه گرفته و نهادینه شود ، در تمام دوران زندگی، از کتاب دست بر نخواهند داشت. در این مورد برخی از کارشناسان ذیربط معتقدند که روش های تدریس جذاب تر، شاگردان مکاتب را بیشتر به مطالعه علاقمند می سازد. بکار بستن روش هایی چون بازدید شاگردان از کتابخانه های عمومی و خصوصی ، گرفتن آمار کتاب ها به عنوان کار عملی از مراکز فروش کتاب در سطح شهر، آزاد گذاشتن شاگردان مکاتب در انتخاب منبع برای انجام تحقیق و کار های درسی ، در دسترس قرار دادن کتابخانه های عمومی، ایجاد کتابخانه های غنی در مکاتب ، آموزش و نمایش فیلم ها و سریال های تلویزیونی برای ترغیب و تشویق شاگردان مکاتب و حتا مردم به مطالعه بیشتر و کتابخوانی، کرایه دادن کتاب ها و یا فروش آن ها به صورت قسطی و ...چنین روش هایی می توانند در نهایت به نهادینه شدن فرهنگ مطالعه و کتابخوانی کمک شایانی بنماید.

در ادامه از جمله عناصری که برای ترویج و نهادینه شدن فرهنگ مطالعه و کتابخوانی بسیار مهم و تعیین کننده دانسته می شود نقش حکومت و رسانه های همگانی است. به تعبیر دیگر شیوه حکومت داری و هم چنین شرایط اقتصادی، سیاسی، اجتماعی و فرهنگی حاکم بر جامعه، نقش بزرگ و غیر قابل انکاری در ترویج فرهنگ مطالعه و کتابخوانی دارند. در این زمینه نقش فرهنگ، سنت های اجتماعی و متولیان فرهنگی بیش از همه مهم و حیاتی جلوه می کند. هرچند توسعه فرهنگ مطالعه و کتابخوانی، یک عزم همگانی را می‌طلبد ولی سهم حکومت نیز بسیار مهم و تعیین کننده است. حکومت به عنوان متولی بسیاری از امور فرهنگی، با در اختیار داشتن رسانه های گروهی، سازمان ها و نهاد های دخیل و ذیربط، و با سیاست گذاری های دقیق و کلان ، نقش به سزایی در ایجاد فرهنگ مطالعه و نهادینه شدن فرهنگ کتابخوانی می تواند ایفا کند. بطور مثال ساده ترین کاری که حکومت می تواند برای ترویج فرهنگ مطالعه و کتابخوانی انجام دهد برگزاری نمایشگاه های کتاب در سطح کشور و ولایت ها و نیز اهدای جوایز ادبی، علمی و فرهنگی به ناشرین و کتابخوانان و نویسندگان، اهدای کتاب به بهانه های گوناگون ، حمایت های مالی از خریداران کتاب از طرق مختلف و توجه به زیرساخت های لازم برای تقویت فرهنگ مطالعه و کتابخوانی است.

آنچه در پایان نباید فراموش نمود این است که در زمینه توسعه و نهادینه شدن فرهنگ مطالعه و کتابخوانی عمومی ناشران و کتاب فروشی ها هم به نوبه خود نقش بسیار موثری در اشاعه فرهنگ کتابخوانی ایفا می توانند. میزان توجه ناشران به تمایلات و نیازهای خوانندگان، رعایت استاندرد های چاپ و نشر و هم چنین گسترش قلمرو نمایش و توزیع کتاب توسط کتاب فروشی ها مطابق به نیازمندی کتابخوانان از جمله عوامل اثرگذاری در گرایش مردم به سمت و سوی مطالعه می باشد. هم چنین توجه به اموری چون کیفیت برتر کتاب، اعم از جذابیت ظاهری، نحوه صفحه آرایی و حروف چینی، شیوه طراحی و رنگ آمیزی، تصاویر روی جلد و درون متن، حجم، قطع و کیفیت چاپ و صحافی و هم چنین ویژگی های محتوایی و مسائل مربوط به ویراستاری کتاب و... مواردی هستند که در جهت ترویج و نهادینه ساختن فرهنگ مطالعه و کتابخوانی بایستی مد نظر ناشران، نویسندگان، ویراستاران و به طور کلی متولیان عرصه چاپ و نشر کتاب قرارگیرد.

# گزارش اعضای کمیسیون اصلاح لوحه ها و تابلوها به رهبری وزارت اطلاعات و فرهنگ

اعضای کمیسیون اصلاح لوحه ها و تابلوهای اعلانات، از کار کرد شان در سال گذشته و از برنامه های آن کمیسیون در سال آینده هجری شمسی را به سرپرست وزارت اطلاعات و فرهنگ توضیح دادند.
به گزارش آژانس باختر: رییس و اعضای کمیسیون اصلاح لوحه ها و تابلو های اعلانات امروزدر نشست با سرپرست وزارت اطلاعات و فرهنگ درباره برنامه های کمیسیون یاد شده در سال آینده توضیحات دادند.
دراین نشست نخست، مولوی ضیاالحق حقمل وارسی کننده معینیت امور نشرات وزارت اطلاعات و فرهنگ ووارسی کننده کمیسیون اصلاح لوحه ها و تابلو های اعلانات، در مورد فعالیت ها و برنامه های کاری سال ۱۴۰۲ این کمیسیون گزارش مفصل ارائه داشت.
قاری ولی گل جواد رییس امور کلتوری شاروالی کابل و عضو این کمیسیون هم در مورد فعالیت ها و برنامه های ساحوی و نیز پیرامون برخورد وواکنش مردم در قبال فعالیت های کمیسیون اصلاح لوحه ها و تابلو های اعلانات صحبت کرده، اهمیت کار کمیسیون راطور مفصل بیان داشت.
همچنان سایر اعضای کمیسیون که از نهاد های مختلف نمایندگی می کنند به نوبه در مورد اهداف و برنامه های شان در سال جدید، نکاتی را بیان داشتند.
در اخیر الحاج ملاخیرالله خیرخواه سرپرست وزارت اطلاعات و فرهنگ، از برنامه ها و فعالیت های کمیسیون تقدیر کرده، یاد آور شد که در راستای حفظ رشدارزش های فرهنگی و رشد زبان های ملی ، از هیچ نوع تلاش دریغ نخواهند ورزید.
او تاکید کرد که رهبری امارت اسلامی افغانستان و وزارت اطلاعات وفرهنگ درین راستا همکاری لازم را انجام خواهند داد.
ملاخیرالله خیرخواه سرپرست وزارت اطلاعات و فرهنگ، همچنان برای پیشبرد بهتر امور کمیسیون، نظریات و رهنمایی های لازم را ارائه داشت.

## لوګر کې ۱۳ نوي ښوونځي...

رسنیو ته ویلي، چې د دې ښوونځیو په جوړېدو سره به نږدې ۷ زره ماشومانو ته د زده‌کړو زمینه برابره شي. نوموړي وایي پوهنې ریاست روان کال په دغه ولایت کې ۱۹۲ خصوصي دیني مدرسې رسمي کړې دي، د تیمانو لپاره یو دارلیتام جوړ شوی او دغه راز درې نوي ښوونځي جوړ شوي دي.

## ملي دفاع وزیر د لوړپوړي پلاوي...

د قطر په ډیمیډیکس دفاعي غونډه او نندارتون کې برخه واخلي. ښاغلی خوارزمي همداشان وایي چې افغان چارواکي به له قطري لوري د کابل-دوحې پر دوه اړخیزو اړیکو او نورو مسایلو خبرې اترې وکړي. قطر هغه عربي هیواد دی چې له اسلامي امارت سره غوره اړیکي لري. د ویلو ده چې تر دې دمخه هم ملي دفاع وزیر دغه هیواد ته په یوه سفر تللی و.

## ۳۰۰۰ افغان دیگر از ایران و پاکستان...

کمشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان جهت دریافت خانواد ها ی شان معرفی شدند. همچنان ۲۰۵ تن مهاجر افغان به تاریخ های ۱۱ و ۱۲ حوت از آن طرف خط فرضی و از گذرگاه تورخم به کشور برگشتند و بعد از ثبت درداراه امورمهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.

## له افغانانو سره د ۲۰ میلیونه...

په ۲۶ ولایتونو کې له ۳۰۰ زرو څخه زیاتو افغانانو ته د خوړو خوندیتوب په برخه کې مرستې ورسوي. بلخوا، په افغانستان کې د اروپایي ټولنې شارژدافیرې «رافایلا اودیچي» ویلي چې دغې ټولنې د خوړو له نړیوال پروګرام سره په ګډه پروګرام پیل کړی چې هدف یې د هېواد په کچه د اقلیم بدلون اغېزو مخنیوي ته چمتووالی دی. په خبرپاڼه کې راغلي چې اروپایي ټولنې په تېرو پنځو کلونو کې څه باندې ۲۶۰ میلیونه ډالره په افغانستان کې د خوړو نړیوال پروګرام په واک کې ورکړي چې په دې کې بېړنۍ مرستې، د خوارځواکۍ مخنیوي توکي او نورې بشري مرستې شاملې دي. دا مرستې داسې مهال شوې چې د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوتېرېش ویلي چې دغه سازمان په افغانستان کې بشري اړتیاوو ته د رسېدو لپاره یوازې درې سلنه بودجه ترلاسه کړې ده.

## د بلخ ګڼو ولسوالیو کې پر مالدارانو...

د مرکز ترخنګ په ټولو ولسوالیو کې د واورې د اورښتونو سخته څپه راغلې، چې د دې اورښتونو له امله د یو شمېر ولسوالیو لارې بندې شوي وې، ولس یې له خوراکي توکو له کمښت سره مخ وو، حیواناتو یې مړه شوي، په زیاتو ساحو کې حیوانات او یو شمېر کورنۍ د اورښت له امله په واوره کې بند پاتې وو. د بلخ والي محمدیوسف وفا د بیړنۍ سپارښتنې په بنسټ د مرستیال والي په مشرۍ اضطراري کمېټه تاکل شوې، چې د بلخ ولایت مقام، د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست، د ۲۰۹ الفتح قول اردو، ټولګټو چارو ریاست، اقصاد ریاست، زراعت ریاست، د پېښو پر وړاندې د مبارزې ریاست، صحت عامه او شمېر نورې دولتي اداري په ګډه د ټولو هغو ولسوالیو لارې له مرکز سره ونښلولې، چې د واورو له امله بندې شوي وې، ولس ته یې خوراکي مواد رسولي او حیواناتو ته یې د خوراکي موادو د رسولو ترخنګ د دوی ژوند ژغورلی دی. د بلخ ولایت د کلیو د بیارغوني او پراختیا رییس مولوي یار محمد شبیر ویلي؛ د اړونده ټولو ولایتي رییسانو کاري ټیمونو ته یې د بلخ والي په لارښوونه، چې د شته امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره دې ټولې واورینې لارې او سړکونه له واورو څخه پاک او د هېوادوالو د تګ راتګ پر مخ پرانېزي، د ولس او حیواناتو ژوند دې وژغوري او د ولس ترخنګ هغه سیمو کې چې حیوانات اوسېږي خوراکي مواد ورته ورسوي. نوموړي زیاته کړې؛ تر دې دمه د بلخ ولایت چهاربولک ولسوالۍ د حیواناتو لپاره درې موټره خوراکي مواد (بوس) او ولس ته یې خوراکي توکي رسول شوي. البرز ولسوالۍ ته نهه موټرونه د حیواناتو خوراکي مواد او ولس ته خوراکي توکي، چمتال ولسوالۍ ته درې غټ موټرونه د حیواناتو خوراکي مواد او ولس ته خوراکي توکي، زارع ولسوالۍ ته دوه موټرونه، د البرز والسوالۍ قزلکودک سیمې ته دوه موټره، شولګري ولسوالۍ ته پینځه موټره، کشندي، چهارکینت او بلخ ولسوالۍ ته یو یو موټر، د بلخ ولسوالۍ بای بچه قاک سیمې ته یو موټر او د دې ترخنګ د البرز، شولګره، کشندي، زارع، مارمل او چهارکینت ولسوالیو عموي او فرعي لارې د ۲۰۹ الفتح قول اردو او ټولګټو چارو ریاست د قوي ماشینرۍ په وسیله خلاصي او د ولس د تګ راتګ پر مخ خلاصي شوې.

## تېر کال کې له ۵۰۰ زیاتې ولسي...

چې په وینا یې زړې شوې له سره تازه کړي. ښاغلي غزنوي زیاته کړې، چې قومونو او قبایلو چارو وزارت په تېر یوه کال کې کوچیانو ته په بېلا بېلو برخو کې اسانتیاوې رامنځته کړې او شته ستونزې یې ورحل کړې دي. د قومونو او قبایلو چارو وزارت مرستیال ویلي؛ دغه وزارت لس علمي مرکزونه لري، چې د لیرې پرتو او له زده‌کړو بې برخو سیمو زرګونه ځوانانو ته یې ګڼې ښوونیزې اسانتیاوې برابرې کړې دي. دغه‌راز په لیرې پرتو سیمو کې خلکو ته شاوخوا ۱۲۸ روغتیایي مرکزونه هم جوړ شوي، چې په عادي ډول روغتیایي خدمات وړاندې کوي.

## نصاب تحصیلی پوهنځی روانشناسی...

معین علمی وزارت تحصیلات عالی همچنان در مورد فواید و مزایایی رشته هنر های زیبا نیز ابرازنظر کرد و از استادان این رشته خواست که در مورد مزایای این رشته و تاثیرات مثبت آن بالای افراد جامعه، معلومات شان را شریک سازند و هنر را در ذات خویش به مردم معرفی کنند. پوهندوی داود شاه فاروق عضو کمیسیون نصاب تحصیلی وزارت تحصیلات عالی، در مورد آجندای کاری اعضای این نشست که قرار است پنج روز ادامه بیابد، معلومات داد و گفت که طی این پنج روز در مورد جمع بندی، تنظیم و مرور کلی متون نصاب، صحافت و دیزاین نصاب تحصیلی رشته های یاد شده کار خواهد شد. گفتنی است که وزارت تحصیلات عالی، چندی قبل کنفرانس ملی را تحت عنوان "بهبود نهاد های تعلیمی و تحصیلی افغانستان" برگزار کرده بود که در آن متخصصان و استادان رشته تعلیم و تربیه در رابطه به بهبود، تقویت و راه های حل مشکلات نظام تعلیمی و تحصیلی کشور، مقالات علمی شان را بیان داشتند.

## سرمایه گذاران افغان باید در داخل...

حساب داده می‌شود و پول مالیه بی‌جا مصرف نشده و برای بازسازی کشور هزینه می‌شود. دراین نشست، تاجران و سرمایه‌گذاران افغان، مشکلات شان را در قسمت انتقال مواد نفتی و پیشنهاد های شان را دررابطه به ایجاد منطقه آزاد در بندر ترکمن باشی، ایجاد بانک مشترک افغان – ترکمن، کاهش تعرفه، توازن در بیلانس تجارت؛ و ترویج کالاهای صادراتی افغانستان در جمهوری ترکمنستان بیان داشتند سرپرست وزارت صنعت و تجارت به آنان اطمینان داد که نظر و دیدگاه آنان مدنظر گرفته خواهد شد. باختر

## راستنو شویو کډوالو ته به لازمې اسانتیاوې...

څخه دي. د ریاست الوزرا اداري مرستیال څرګنده کړې، اسلامي امارت د بېرته راستنو شویو کډوالو د لېږد، ځای پرځای کولو او دوی ته د کارموندنې په برخو کې د خدمتونو وړاندې کولو په موخه له خپلو ټولو امکاناتو استفاده کوي.

## برای حل مشکلات مردم ننگرهار...

هستند. ملک سهیل خان ضمن درخواست کاریابی برای جوانان شینوار و استخدام کادرهای آنان در ساختار دولتی، خواست‌های مردم آن ولسوالی را در عرصه‌های صحت، معارف، تقویت اقتصادی و آغاز کارپروژه‌های اساسی چون تولید برق مطرح کرد. مولوی عبدالکبیر، معاون سیاسی ریاست الوزرا از بزرگان قومی ولسوالی نازیان قدردانی کرد و گفت: در بیست سال مبارزه برضد اشغال، تمام اقوام ننگرهار به ویژه مردم شینوار فداکاری کرده و قربانی داده اند. اوافزود که مردم شینوار ننگرهارمانند سایر باشندگان آن، قربانی گروه فتنه‌گر داعش بودند، اما خوشبختانه این گروه از سوی امارت اسلامی از بین رفته و مردم ننگرهار از شر آن نجات یافته‌اند. معاون سیاسی ریاست الوزرا هم‌چنان بیان داشت که نظام اسلامی کنونی برای خدمت مردم و حفاظت از آرمان شهدا کار می کند و همچنان برای حل مشکلات مردم ننگرهار، توجه خاص صورت خواهد گرفت.

## د پنجشیر څه باندې ۴۷ زره قراطه...

د سوداګرۍ او پانګونې خونې د مدیره پلاوي رییس خانجان الکوزي و ویل: « افغان سوداګر باید سره راټول شي او د زمردو د پروسس کارخونه جوړه کړي او کیفیت یې باید لوړ شي، اوس پاکستان ته ځي او هلته پروسس کېږي. » د کانونو او صنایعو خونې لومړی مرستیال سخي احمد پیمان رسنیو ته ویلي: « د افغانستان زمرد د هېواد بهر په ځانګړې توګه په اروپا کې ښه بازار لري. مخکې به د افغانستان زمرد په قاچاق ډول پلور کېدل خو اوس یې کنټرول ترلاسه شوی دی.» تر دې وړاندې د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت ویلي وو، چې د روان لمریز کال په لومړیو نهو میاشتو کې پاکستان، چین، ازبېکستان، سویس متحده عربي اماراتو او جرمني ته د زمردو په ګډون د څه باندې دوه میلیونو ډالرو په ارزښت ګرانبیه او نیمه ګرانبیه ډبرې صادرې شوې دي.

## گسترش تجارت میان افغانستان...

اشتراک می‌کنند. در همین حال عزیزی با اشاره به امکانات و مواد خامی که دو کشور در اختیار دارند، گفته که با نشست سکتور خصوصی میزان صادرات افزایش خواهد یافت.
گفتنی‌است که نورالدین عزیزی با شماری از تاجران و سرمایه‌گذاران افغان که به هدف اشتراک در کنفرانس تواصل تجارتی و نمایشگاه ترکمن-افغان به ترکمنستان سفر کرده‌اند نیز دیدار کرده است. عزیزی از این تاجران افغان خواسته که در افغانستان سرمایه‌گذاری کنند.

## بازگشایی شاهراه سالنگ...

شاهراه سالنگ، بزرگترین مسیر درافغانستان است. این شاهراه که پایتخت را به سیزده ولایت شمالی وشمال غربی افغانستان وصل می کند. در یک خبر دیگر از قول رییس فواید عامه پروان گفته شده است که شاهراه پروان-بامیان به روی عبور و مرور باز شد. مولوی عارف گفته است که کارکنان آن اداره، پانزده کیلومتر ازاین جاده را که برف و مواد رسوبی درآن تراکم کرده بود، پاک کاری کرده و این مسیر به روی ترافیک گشوده شد.

## د کرنې وزارت د کبانو پالنې...

وزارت د شمېرو له مخې په کور دننه هم په بېلابېلو فارمونو کې د کبانو ۱۱ زره ۳۶۵ میټریک ټنه غوښه په هېواد کې تولیدیږي، چې له منځه یې ۱۸۰۰ ټنه د هېواد له سیندونو لاس ته راځي.

## د اقتصادي او تبلیغاتي یرغل مقابله ...

توکم ته د نن ورځې ټولې وړپېښې بدمرغۍ فقط له اسلام سره غوټه کوي، څو په دې وسیلې وکولی شي د وخت هغه لالهانده انسانان چې د خپلې فطري تندې خړوبولو پسې سترې ستومانه ګرځي. لا هم بې لارې او د اسلام دغې مبارکې رڼا ته ور پرې نږدې او په دې ډول د خپل مشر استاد (ابلیس) لپاره څه ملګري او مریدان نور هم ورزیات کړي. حقیقت دا دی، چې د حق او باطل دغه مقابله د بشر د پیدایښت له پیله را روانه او آن تر قیامته به چلیږي. او دغه شان تر یو او بل قومه پورې هم نه ده ترلې. یوازې په دومره توپیر چې کوم خلک د ابلیس او د هغو ملګرو دجالانو سره ملګرتیا کوي، ظاهراً به یې ګېډې مړې او تر څه حده به یې نفساني هوسونه ترسره وي؛ خو څوک یې چې مخالفت او مقابله کوي. طبعاً له یو شمېر ستونزو سره به مخ کېږي خو په واقعیت کې همدا ټولګی خلک د خپل خالق او مالک دوستان او د ابدي بریا ګټونکي دي. دا چې اوس د افغان ملت غوڅ اکثریت د ابلیس د لښکرو مقابلې ته ملا ترلې او په دې لاره کې یې بې دریغه قربانۍ ورکړې دي. بناءً لازمه ده، خپل دښمن سره پاتې ډګرونو کې هم مبارزې ته ځان چمتو کړي. البته دا ډګر توره او ټوپک نه بلکې یوازې صبر و استقامت غواړي. په دې هکله د یو من لپاره دغه قرآني ارشاد بالکل شافي او کافي دی، چې وایي: (که تاسې صبر او تقوا کوئ، نو د هغوی دسیسې کوم زیان نه شي در رسولی.) په دې اساس دا وخت د ګرد افغان مسلمان ولس پر غاړه دا هم یوه لویه دیني او ملي فریضه ده چې بشپړ متانت او ځیرکۍ سره نه یوازې دا چې له روانو شیطاني تبلیغاتو متأثر نه شي، بلکې په یوه خوله یې غاښ ماتونکی ځواب هم ووایي. اوس باید د حکومت او رعیت هر فرد، هره ټولنه او خصوصاً هره فکري او تبلیغاتي اداره د هغه لوی تبلیغاتي یرغل مقابلې ته ټینګه ملا وتړي، چې دا وخت یوازې د خپلو درواغجنو پروپاګندو پر مټ غواړي، زمونږ پر مصیبت ځپلي ولس قیامت، فاجعه او ناورین راولي. دوی غواړي فقط د(هله تبایي راغله) په نارو سورو موږ له خپل کار روزګار هم لاس واخلو، تدابیر نیول هم پرېږدو او خپل اقتصادي وضعیت لا نور هم بحراني او بې ثباته کړو. مونږ هر یو باید کلک باوري اوسو، چې د نن فرعوني درباروته به هیڅکله او په هیڅ صورت نه زمونږ پر حال زړه وسوځوي او نه به زمونږ له ځورولو لاس واخلي؛ ځکه خو اوس په دې برخه کې هم د مسؤلینو او هم د ټولو دیني علماؤ او رهبرانو تر هر څه مهمه ذمه واري دا ده، چې د خپلو جوماتونو، منبرو، مدارسو، خواله رسنیو، راډیو ګانو، ټي وي چینلونو او ګردو تبلیغاتي دستګاو له لارې پر خپل ټول رعیت د صبر او استقامت غږ وکړي، ډاډ ورکړي او د اقتصادي بحران د مخنیوي لپاره اغېزناک او مناسب تدابیر وسنجوي. مشران باید په خپلو بیانیو سره د خلکو د قناعت او اطمینان هڅه وکړي؛ ځکه د دوی ویناوې پر عوامو خامخا ډېر اثر کوي. او که خدای کول د لوی او قادر خدای توفیق به له مونږ سره مل وي.

Shariat Daily

**Shariat**
**Published by**
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

**شریعت**
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
**شماره توزیع و شکایات:** ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Monday 04 March 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 395


# راستنو شویو کډوالو ته به لازمي اسانتیاوې برابرې شي



د ریاست الوزرا اداري مرستیال مولوي عبد السلام حنفي د بغلان ولایت له یو شمېر علماوو او بېرته راستنو شویو کډوالو سره لیدنه کړې. یادو علماوو د بغلان د ټولنیز، اقتصادي او امنیتي وضعیت په اړه د ریاست الوزرا اداري مرستیال ته معلومات ورکړي. علماوو ویلي؛ د بغلان سیمه بیز مسولین د امنیت د ټینګښت، خلکو ته د لازیاتې هوساینې د رامنځته کولو او د دوی ستونزو د حل په برخه کې هڅې کوي. نوموړو همداراز زیاته کړې، د بېرته راستنو شویو کډوالو د لېږد، ځای پرځای کولو، مېشتولو او د لازمو خدمتونو وړاندې کولو لپاره د خپلو امکاناتو په محدوده کې هلې ځلې کوي. مولوي عبد السلام حنفي ویلي؛ خلکو ته د ټولنیزې هوساینې رامنځته کول او دوی ته د لازمو اسانتیاوو برابرول د اسلامي امارت له لومړیتوبونو... ۵مخ

## نورالدین‌عزیزی:
# سرمایه گذاران افغان باید در داخل افغانستان سرمایه گذاری کنند



نورالدین عزیزی سرپرست وزارت صنعت و تجارت، که در یک سفر رسمی به ترکمنستان رفته است دریک نشست با تاجران و سرمایه‌گذاران افغان، ازآنان خواست که در داخل کشورسرمایه گذاری کنند. سرپرست وزارت صنعت و تجارت در این نشست از تاجران و سرمایه‌گذاران افغان مقیم کشورهای مختلف که جهت اشتراک در کنفرانس تواصل تجارتی و بازدید ازنمایشگاه ترکمن – افغان به جمهوری ترکمنستان آمده اند، آنان را ترغیب کرد که با استفاده از سهولت ها و فرصت های ایجاد شده در داخل کشور سرمایه گذاری کنند.نورالدین عزیزی به آنان اطمینان داد که در مقابل هر افغانی که مالیه پرداخت می‌کنند،... ص۵

# لوګر کې ۱۳ نوي ښوونځي جوړېږي



د لوګر د پوهنې ریاست وایي، چې په راتلونکي ۱۴۰۳ لمریز کال کې ۱۳ نوي ښوونځي د دې ولایت په هغو سیمو کې جوړوي، چې هلته لا هم ماشومان زده‌کړو ته لاسرسی نه لري. د لوګر د پوهنې ریاست ویاند شاه پور عرب... ۵مخ

## لطف‌الله خیرخواه:
# نصاب تحصیلی پوهنځی روانشناسی و هنرهای زیبا بازنگری می شود



وزارت تحصیلات عالی، نشست را به منظور باز نگری و انکشاف نصاب تحصیلی رشته های مربوط به پوهنځی های تعلیمات اختصاصی، مسلکی، روانشناسی و هنر های زیبای پوهنتون های کشور را برگزار کرد. به گزارش آژانس باختر؛ دراین نشست دکتور لطف الله خیرخواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی گفت: تا زمانی که به بخش های تعلیمی توجه اساسی صورت نگیرد، نظام تحصیلی معیاری و محصل بهتر نخواهیم داشت. ص۵

## د قومونو او قبایلو چارو وزارت مرستیال:
# تېر کال کې له ۵۰۰ زیاتې ولسي شخړې حل شوي



د قومونو او قبایلو چارو وزارت مرستیال مولوي محمد اسماعیل غزنوي له ملي تلویزیون سره په ځانګړې مرکه کې ویلي؛ تېر یوه کال کې د هېواد په کچه له ۵۰۰ زیاتې سترې او وړې ولسي شخړې، چې د ښکېلو خواوو له لوري سلګونه کسان پکې وژل شوي او کن مالي زیانونه یې لیدلي وو، د جرګو او مرکو له لارې حل شوې دي.د نوموړي په وینا؛ له ګاونډیو هېوادونو سره سرحدي او صفري نقطې هم ارزول شوې او د نوي پلان په ترځ کې به یادې سرحدي نبښې... ۵مخ

# ۱۰ بهرنیو سیلانیانو له هراته لیدنه وکړه

د هرات د اطلاعاتو او کلتور ریاست مسوولین وایي، چې هرات ته د امریکا، انګلستان، اسپانیا او پولند هېوادونو شخه ۱۰ سیلانیانو سفر کړی دی.د هرات د اطلاعاتو او کلتور ریاست د ګرځندوی آمر مولوي رحمت الله محمدي ویلي چې دغه ولایت ته د روان کال په بهیر کې د نړۍ له ۷۰ بېلا بېلو هېوادونو څخه څه ناځه ۱۰۰۰ بهرنیو سیلانیانو سفر کړی دی. یادونې وړ ده، چې د اسلامي امارت په بریا او د هر اړخیز امنیت په تامینېدو سره په هېواد کې د بهرنیو او کورنیو سیلانیانو شمېر زیات شوی او له کومې اندېښنې پرته ټولو ولایتونو ته سفر کوي.

# د بلخ ګڼو ولسوالیو کې پر مالدارانو خوراکي مواد وېشل شوي



بلخ کې د بیړنۍ کمېټې لخواه د درې میلیونه افغانیو په ارزښت د دغه ولایت ګڼو ولسوالیو مالدارانو ته خوراکي مواد او د حیواناتو لومړني مواد وېشل شوي دي.د بلخ ولایت ویاند حاجي زید ویلي؛ له تېرو څو ورځو راهیسې د بلخ ولایت ... ۵مخ

# هلمند کې لسګونه جریبه دولتي ځمکه له غصبه وژغورل شوه

د هلمند د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسوولین وایي، چې د یاد ولایت په لښکرګاه ښار کې لسګونه جریبه دولتي ځمکه تثبیت او د غصب مخه یې نیولې ده.د هلمند د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست د دولتي ځمکو د تثبیت او غصب مخنیوي تخنیکي پلاوي له لوري د لښکرګاه ښار په سرکار سیمه کې ۱۵ جریبه دولتي ځمکه تثبیت او د غصب مخه یې نیول شوې ده. یادونې وړ ده، چې په یاده سیمه کې غاصبینو غوښتل چې پر دغو ځمکو آبادي وکړي چې د یاد ریاست د تخنیکي پلاوي په هڅو د غصب مخه ونیول شوه.

# له افغانانو سره د ۲۰ میلیونه یورو مرسته

د خوړو نړیوال سازمان له افغانستان سره د اروپایي ټولنې د ۲۰،۱ میلیونه یورو د مرستې خبر ورکړی.یاد سازمان د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې په دغو پیسو به وتوانېږي،... ۵مخ



# ۳۰۰۰ افغان دیگر از ایران و پاکستان به کشور بازگشتند

منابع در وزارت امور مهاجرین می گویند که روز گذشته سه هزار شهروند دیگر افغان از ایران و پاکستان به کشور بازگشتند. دفتر مطبوعاتی وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان امروز با نشر این خبر گفته است: یک هزار و ۴۷۷ نفر مهاجر افغان در ایران روز گذشته از مسیر اسلام قلعه به کشور بازگشتند، از این میان۱۴۰ نفر شان نیازمند شناسایی وغرض دریافت کمک به دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی ومواد غذایی وغیر عذایی را دریافت کردند. ۴۰ کودک بی سرپرست به موسسه... ص۵

## رویدادهای خارجی

# شهباز شریف بیاځلي د پاکستان لومړی وزیر شو



د پاکستان پخوانی لومړی وزیر او د مسلم لیګ ن ګوند نوماند شهباز شریف پرون د دویم ځل لپاره د یاد هیواد لومړی وزیر وټاکل شو. د پاکستانیو رسنیو له قوله چې شهباز شریف د ۲۰۱ مثبتو رایو په اخیستلو د دویم ځل لپاره لومړی وزیر ټاکل شوی دی. پاکستاني ډیلي جنګ راپور ورکړی، چې د شهباز شریف سیال د تحریک انصاف غړي عمر ایوب د ۹۲ رایو په ترلاسه کولو سره ونه توانېد چې د پاکستان د لومړي وزیر څوکۍ ترلاسه کړي. د نواز شریف په مشرۍ د مسلم لیګ ن ګوند، د بلاول بوټو په مشرۍ د خلکو حزب سره تر هوکړې وروسته نوموړی د ایتلافي حکومت جوړېدو لپاره د لومړي وزیر څوکۍ ته نوماند کړ، چې د پارلمان له لوري د ۲۰۱ رایو په ترلاسه کولو سره د (۲۴)ام لومړي وزیر او د پاکستان د مجلس ۱۶ رهبر په توګه وټاکل شو. د یادونې وړ ده چې شهباز شریف د پاکستان د پخواني لومړي وزیر نوازشریف ورور دی او تر دې دمخه درې ځلې د پنجاب وزیر اعلی او د پاکستان لومړی وزیر هم پاتې شوی دی.

# د ایران انتخابات؛ تهران کې محافظه پال کاندیدان مخکې دي

د جرمني خبري آژانس د رپوټ پر اساس ویل کېږي چې د حامد رسایي په مشرۍ یو سخت دریځ اتحاد د تهران له ۳۰ څوکیو څخه ۱۷ ګټلي دي.د ایران د پارلمان د اوسنی مشر، محمد باقر قالیباف، چې د یوې بلې محافظه پاله ډلې مشري کوي، هم یو نوی منديټ په لاس راوړی دی.د مهر خبري آژانس د رپوټ مطابق د جمعې ورځې انتخابات د خلکو د مشارکت له اړخه ډېر ضعیف وو. رپوټ وایي رایو د ورکړې په شرایطو برابر ۴۱ سلنه کسان د رای اچونې مرکزونه ته ولاړل چې تهران یې ۲۴ سلنه برخه تشکیلوي. خو د جرمني خبري آژانس وایي چې دغه ارقام په خپلواک توګه تائیدولی نشي. ایران د جمعې په ورځ له خپل شاوخوا ۶۱ میلیونه نفوس څخه وغوښتل چې په انتخاباتو کې ګډون سره خپل نوی پارلمان او د خبرګانو مجلس چې په سیستم کې د اسلامي روحانیونو یوه اغیزناکه بدنه ده، وټاکي. په ایران کې نوماندان د ګوندونو له خوا انتخاباتي سیالیو ته نه وړاندې بلکې خپله نوماندي په لیستونو کې تنظیموي. د بېلګې په توګه په تهران کې د پارلماني انتخاباتو له پاره ۳۰ څوکۍ په نظر کې نیول شوي چې هر اتحاد ورته ۳۰ نوماندان وړاندې کړي دي. د ایران پارلمان ټول ټال ۲۹۰ څوکۍ لري چې په هرو څلورو کلونو کې یې انتخابات ترسره کېږي. په انتخاباتو کې د نګهبان شورا چې یو نظارت کونکی بنسټ دی د سیاستوالو د ایدیالوژیکي شایستګۍ په برخه کې تصمیم نیسي.

